مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۲/۲۱

# مونږ او نړۍ

د پراخه فضا په زړه کې ، په ډېر حیرت سره ، د تحقیق او څیړنو فضایي بیړۍ د بشر د راتلونکو آرمانونو د تحقق د پاره په ډېره چټکي د یوي نوي دنیاګۍ د پیداکولو د پاره هڅې کوی ،او د دي پراخه فضا په لمن کې او په درنه چوپه چوپتیا کې روانه ده ، په دي تکل چې د بشر د راتلونکي د پاره د نوی ژوند او د پراخه ژوند امکانات برابر کړي . د بیړۍ چلونکي څو دردمن انسانان چې د فضایي تخنیک اوپه نورو علومو سمبال دي ، د نوی ماحول په پلټني کې ، په خورا ژور سوچ سره ،د خپل هدف په لور مخ په وړاندی روان دي ،او دا د دي دنیایي مدنیت د عظمت او پر مختګ نښنه ده ،
خو دلته په ځمکه کې لا تر اوسه هم داسي ذهنیتونه شته دي ،چې د مغارو د عصر خیالونه په سر کې لري ،د نړۍ د دومره پرمختګ سره سره زمونږ ښونځي سیځل کیږي ،جنکي د سبق څخه منع کیږي چې باید جنکی سبق و نه وایي ،او ځان ته طالبالعلمان هم وایی ،خو د دوی د نادانی بلې رسوایی هم دا ده ،چې که د دوی زنانه وو ته کومه مریضي پیښه شي ، نو بیا وایي چې زمونږ ښځي او زنانه دي زنانه ډاکترانې وګوري ، نارینه دي نه ګوري یا معاینه یې کړي، د دي احمق خو بیا خپله فلسفه د یاده وتلي وي .دا د هر روښان ضمیره په ذهن کې دا راګرځوی چې ورته ووایي : احمقه! نادانه !او د خپل حال او ماحوله بی خبره ! ته خو یو وار زنانه وو ته اجازه ورکړه چې علم زده کړي او ډاکترانې شي او بیا ستاسو د زنانه وو علاج وکړي .

ای د علم طالــــــــــبه ! یــو پراخ نظــــر پیدا کړه
چې دا ستونزی نه حـل کیږي ، په دي وچه مــلایي

طالبي علـــم دي پریږده ، جــهاني علــــم زده کـړه
چې حکومت او ســیاست غواړي ، فـــهم و رسایي

په ستره جامو کې ، کښېنه په یو ګوټ کې د جومات
د سینګار دپاره کش کړه ، په خپل ســترګو ســلایي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ